**لیکونکی**: کرست هیجس «Chris Hedges».
**منبع اود خپریدو نیټه** : انفارمیشن کلیرنګ هوز «22-12-2020»
**ژباړونکی**: پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»
=========================================

# لوی تیر ایستنه

## The Great Delusion




**اصلی انځور شیر پوست (Scheer Post) لپاره دمستر فش پواسطه سره**

*****

*« جو بایدن» اود ژوری (مخفی) دولت اود امپراتوری سیستم مدیران بیرته واک ته را ستنیږي . ولسمشر «دونالد ترامپ» اودهغه ډیر صمیمی نژاد پا له ِ تویټری دزبیښا ک ماهر اومکار هنر مندان او عیسوی فاشیستان په ډیر لیوالتیا سره دفتر پریښودو ته چمتووالي نیسی ، د متحده ایالاتو درمل جوړونی شرکتونه د نړۍ په کچه د (COVID-19) ترټولو ناوړه پیښی د را ټیټولو لپا ره واکسین خپروي ، یعنی د هغه ویروس څخه د را پیدا شوي نا روغي په مقا بل چي په ورځ کي (2600) امریکایان په آمریکا کی وژني مجادله وشي ، لکه څنګه چي « بایډن» وویل آمریکا بیرته را ستون شوي او چمتو ده چي بیرته د میز پر سر کي خپل ځای ونیسي .*

*دمتحده ایالاتو دمورال یا دروحی لپاره په جګړه کي ، هغه یعنی (بایدن) مونږ ته داډ راکوي چي دموکراسی بریا لي یا برلاسی ده ، سوکا لي ، پرمختګ ، مد نیت، اود آمریکایانو وقار او ځواک یو ځل بیا تحویلول یا دهغه دبیا له سره د ادعا کولو واتن دڅو هفتو څخه لیری نه دي.*

*اما اصلی لوست چي مونږ یی با ید دعوام فریبی له مینځته کید و څخه زده کړو لکه «ترامپ» چي (74) میلونه رای یی ترلاسه کړي اود وبا دتول نیونکي (پاند یمي) ناروغي څخه زمونږ دګتو لپاره روغتیایی انتفاعي صنعت ونشو کړلي چی نوموړی ناروغی شنډ یا مهار کړي ، آیا دا دوتلو نه دي یا دا چي مونږ د یو ملت یا د یو موجود په عنوان کنترول دلاسه نه دی ورکړي ؟*

*له خطره ډک خلک غولوني (عوامفریبی) کوم چي د امپریا لیستي اود نیولیبرالي له سیا ستونو*

ځخه کوم چي (بایدن) له هغه ځخه استقبا ل یا پیروی کوي نه دی را مینځته شوی ؟ ټول ناوړي اخته کوونکی ناروغي کوم چي نړی یي دلوړ مکروبی اود مړنی په لور کاږلي ، آیا دهغه لامل زمونږ له ځارویوو ځخه دتر لاسه شوی محصولاتو ددوامدار مصرف یوه ناخوالي یا یله نه ده .یا داچي دا پخپله د اکو دسیستم خرابیدو پوری تړ کوم چي مونږ او نور ژوندي ډولونه (species) پکي ژوند کوو یا هغه پوری تړلی یاستو نه یوو؟ یعنی هغسی تړ کوم چي مونږ پخپل لاس دغه نړئ اودغه اکو سیستم ویجاړوو.

***ریـنهولد نیبیور*** (Reinhold Niebuhr) ولیکل :

د بشریت یا دانسا نی تاریخ یو له تر ټولو بد مرغه اړخ ځخه دا دي چي هر تمد ن خپل ځای په خورا دقت او ښکاره بنی سره ځرګند وي ، خپل خبري یا نړیوال ارزښتونه په قا نع کونکی بنی سره ترکیبب کوی او خپل محدود موجود یت د تلپا تي ادعا په هغه لحظه کی کوی . کوم چي دنسکوریدو اودمرګ په حا ل کی لاس او پښی وهي . یا چي د مړني دپیل په درشل کي پریوتي وي .

د ***(با یډ ن)*** انتصاب یا ټاکنی د دموکرات ګوند اود عمده شرکتونو د نخبګانو له خوا تر سره شوی ، یعنی دهغه افراد یا اشخاصو له خوا کوم چي هغوی پخپله د اجتما عي پراخ نابرابری ، تجاری معاملات، صنعتی کید نی ، نظا می پو لیس ، په نړی کي د زندانونو د سیستم رامینځته کونکی اود ریا ضتی اقتصاد مسولان دي. کوم چي دوی د ټولنیز هوسا ینی برنا می عمداً له مینځه وړي ، او سړي جګړي بیا له سره د روسیي په وړاندي شروع کوي ، ددولت اصلی نظارت په مینځنی ختیځ کي نه ختمیدونکي جګړي ته لمن وهل او کارګری طبقی له خپل حقه حقوقو ځخه محرومو ي او هغوی دنیستی خواته بیا یی.

***واشنګټن پوست لیکی*** :

ددی لیکنی پر بنیاد د سپینی مانی نژدی (80) سلنه اداری او اطلاعاتی چاروکو په سپنه ما نی کي دخپل دمخکینی مبارزاتی دندو یا دکار تشریح کولو لپاره د «اوباما» د کلمو او دجملاتو ځخه کا ر اخیستی دي یعنی چي د «اوباما» دتوضیحی ویناو ځخه کار اخیستی دي .

***برنی سند ر*** په ځرګند ډول له دی نه چي هغه ته وعده ور سپارل شوی وه چي ***د (باید ن)*** په کابینه کي به دداخلي وزیر وټکل شی د خپل مبارزا تی هڅو ځخه تر شا شو ، او د ***(با یډ ن)*** له دی ډول برخورد ځخه چي ***برنی*** یی پخپل کا بینه کی ونه نیول نا هیلی ځر ګند کړ . همد ار نګه ***الکساندراوکازیوکورتیز*** (AlexandriaOcasio Cortez) د جرګی دانرژی اود سوداګری کمیټی په کنګره کی د دموکراتا نو لخوا هغه ته دځوکي ځخه انکار شوی وو اودا ځکه چي هغه شنه نوی تړون (Green New) سره خپل ملاتړ اعلان کړی وه ،پرمحتګ غوښتونکي (یا مترقی غوښتونکي ) اود کینې اړخ خلکوته د ***(بایډن)*** د اداری پیغام ځر ګند دي : دمړني ځاځکي (Drop Dead) .

***د راتلو (ورودی) لست*** :

دنوی اداری چاروکو یا د (بایډن) د کا بینی په لست کي متقاعد دری ستوری ***جنرال لیوید جی اوستین*** (Lioyed J. Austin iii) هم شامل دي، یعنی چي هغه دمتحده ایالاتو ددفاع د وزیر په صفت نومول شوي دي، ***اوستین*** د رایتون [( Raxtheon = دامریکی د تکنالوژی دځو ملیتی کورپوریشن یو ګروپ دی ......تفصیل ددی قلم پواسطه سره ] دهییت مد یره په بورډ او (prin island Capitol) کی یو شریک کس دي یعنی د هغه شرکت غړي دي کوم چي دغه شرکت په دفاعي صنایع کي پانګونه کوي ، همدارنګه ښاغلي ***انتونی بلنکین***(Antony Blinken) کوم چي هغه په همدی ورودی لست کی دامریکی د متحده ایالاتو د با ند نیو چارو د وزیر په حیث درج او نومول شوی دي .

هغه یعنی ***بلنکین کوم چي هغه مخکي د ملی امنیت اود خا رجه چارو د وزیر مشا ور وه ، داسرایل د دولت یو له ډیر جدی ، نژدی پلویانو ځخه شمیرل کیږي ، هغه پر افغانستان اوعراق باندي دیرغل وړلو یواځني معمار دي چي دهغه ځخه سربیره هغه په لیبی کي دمعمرالقذافی ددولت***

د سقوط یعنی په مینځنی ختیځ کي دیوبل دولت دما تي ملاتړ کونکي کس دي .
**جنیت یلین** (Janet Yellen) د«بارک اوباما» ترزعامت یا مشری لاندي دفدرال دزیرمو پخواني ریس ، ښکاری چي په نوی کا بینه کي د متحده ایالاتو دخزانه داری د وزیر په مقا م کي پاتي شي ، **بلین** د «**بل کلنتون**» دزمامداری په وخت کي داقتصادی شورا د مشاورپه توګه اوبیا وروسته دفدرال دزیرمي دهییت مدیره دغړي په حیث دنده لرل هغه د ګلاس ستیګل(Glass Steagal) دقانون دله مینځه تلوملاتړ کونکی کسه دی کوم چی دامریکی دمتحده ایالاتو دکانګرس له خوا تصویب شو دغه قانون بانکی فعالیتونه یا پانګوالی د تجاری یا نګوني له لاری منع کړکوم چی داکړنه د کال (2008) د بحران درامینځته کید و محصول وه چي دهغه سره [له هر ېنځه با نک ځخه یو با نک له کا ره ولویده نو په کا ل (1999) کی کنګره دغه قانون له مینځه ویوړ اودهغه پر ځای یی د ( Gram Leach Biley) قانون ځای پر ځای کړ......... تفصیل ددی قلم پواسطه سره ] . له لغوه کیدو ځخه دکال (2008) بحران رامینځته شو نو**بلین** د ګلاس ستیګل د قانون دله مینځه تلو یواخنی پلوی کونکی کسه دی . هغی دامریکایی شمالی له آزاد تجارت توافقنا می ( North American free Trade Agreement =NAFTA) ځخه ملاتړ وکړ او هغی همدارنګه د نوی احصایوی میتریک لپاره چي دهغه ځخه مطلب په تولنیز امنیت کي د زوړ اتباعو ته دتادیاتو یا دمعا شا تو کمول وه دهغی لپاره لابی یا هڅه او اند تر سره کول .
**بلین** د کمی آسانتیا (Quantitative easing) ملا تړ وکړ چي والستریت ته یی په ملیا ردونو ، تریلیونونو دالر پورونه چمتو کړه ، هغه پورونه چي دبانکونو اوکورپوریشنونو ضمانت کوي اود لوی ستاک پیرود ملاتړ کي ښکیل دي . په داسی حا ل کي چي دمالی درغلیو قربانیان پرینبودل شوي .
د متحده ایالاتو د بهرنی چا رو پخوانی وزیر **جا ن کیری** (John Kerry) به داقلیم یا دآب وهوا لپاره ځانګړی سفیر یا استازی په لست کی په نښه شوی دی ، (جان کیری) دکورنی تیلو اود ګاز تولید پراخید نه د **بریکن** (د شیل په بسترونو کی په لوړ فشار سره د مایع په زرقولو) له لاری اود (اوباما) دیاداشت یا دهدایت له مخی داقلیم بحران په اړه اند ېنمن خلکوته دقناعت ورکولو لپاره په کلکه کار وکړ چي د «اټومی انرژی» صنعت لپاره سبیسا یدونو اود اضافی فعالیتونو پرانیستل یعنی دامریکی لپاره اضافی ساحلی حطونه دنفت دترلاسه کولو لپاره په سیند کی حفاری کول یا کیندل. کړنی **دجان کیری** له فعالیتونو ځخه یادونه کولی شو.
**ابریل هینس**(Avril Haines) دجمهور ریس «**اوباما**» ترمشری لاندی په (سی آی ای) کي مخکینی معاون داسی ښکاری چي د **(بایدن)** په ادره کي دملی اطلاعاتو دمدیر په حیث وټاکل شي **هینس** په بهرکي د (اوباما) د پراخه اود وژونکی د بی پیلوتو الوتکو دعملیا تونو یا د برنامی نظارت کونکی کس هم وه **، ګینا هسپل** (Gina Haspel) یی د «سی آی ای» دسازمان ومشر په صفت نومولي ، سره له دي چي **هسپل** د «سی آی ای» دشکنجی ورکولو په برنامه کي مستقیماً دخیل وو **. هینس** ، **هسپل** ته هوښیار ، زړه سواند ، او عادلانه شخص تعریف کړي .
**بران دیس** (Brian Deese) کوم چي په بلاک راک کی دآب وهوا دنمونوی کارونو اجرایوی مسول کس وه ، چي دسکرو په ګډون دفوسیل سونګ توکو کی خورا زیات پا نګه اچونه کوي هغه د «اوباما» په زمامداری کي دهغه اقتصادی مشاور وه ، چي د اقتصادی ریاضت د اقداماتو ځخه ملاتړ کړی دی ، هغه د سپینی ما نی داقتصادی پالیسی لپاره مدیر ټاکل شوی دي .
**دهیلاری کلنتون** پخواني همکا ر **نیراتاندن** (Neera Tenden) د بودجی ددفتر د مدیر په صفت ټاکل شوی دي ، **تاندن** دډموکرات ګوند د تنویر د خوني د مشر په توګه اود آ مریکي د پر مختګ مرکز د**سلیکون ویلی** او **والستریت** ځخه میلیونه تودی پیبنی را تولی کړي ، کوم چي دهغی مرستندویا نوکی **بین کپیتال** (Bain Capital) **بلیک ستون** (Black Stone) **ایبرکور** (Everecore)

**والمارت** (Walmart) او ددفاع قراردادی یا پیمانکار نارتروپ گرومن (Northrup Grumman) شامل دي .
متحد عربی آماراتو دیمن په جګړه کي دسعودی عربستان نژدی متحد هم د (۱،۵) ملیون او (۳) ملیون دالر و تر مینځ د تنویر خونی ته ورکړ، هغه په کیبلی خپرونو او تولنیز رسنیو کي **پربرنی سند رز**( Berni Sanders) با ند ي مسخره اود هغه پر پلویانو با ندي خند ید لی هغه په دیموکراتیک پلاتفورم کی دالوتکی وراند یز وکړ چی باید پر **ایران** باندي بمونه وغورځوي .

## دروسی نه په زړه پوري اوشیطا ن پرستي جنګونه:

د**«با ید ن»** ددولت پواسطه دژور غیر وګړنی جنګونو دوام اودهغه شد ید لیبرالی سیا ستونه د روسی د شیطا ن پرستی سره به مخا مخ شی کوم چي په دی وروستیو کي سایبری حملی ترسره کړی دي
دروسی سره نوی سړه جګړه به د کارپوریت دموکراتانو لخوا دکورنی او بهرنی منتقد ینو دبدنامولو کړنه به ترسره شي ترڅو چي له سیاسی بحران اودهیوادلویو شرکتونو له چور او چپاول څخه اذهان منحرف کړی .چي دا پخپله [Microsoft/national broadcasting company] او نیویارک ټایمز ته کوم چي دوه کاله د «روسی ګیټ» په مقابل کي د تش شعارونو په ورکولو سره د سیسی تر سره کړ اوڅه چي یی دلاسه کیده ځنی شایعات دروسی دبد نامولو لپاره پکار ویوړل یا نشرته ور وسپارل .کیبلی (cable) نامی افراد لکه راشل مادو (Rachel Maddow) چي شپی تر شپی وروسته په داسی حا ل کی چی د (بایدن) داداری له فساد څخه سترګی پټوی اما د روسی په اړه زیات او فوق العاده تهمتونه ترزیق کوي اوهغه هم نه یوائی چي روسیه د امریکی د جمهوریت د کال (2020) په تولټاکنه کي تقلب ته زمینه برابر کړی بلکه د کا ل (2016) په ا نتخا با تو کي کوم چی (ترامپ) سره په مرسته کولو دموکراتا نو ته ما تی ورکړ .
**«بایدن »** په **نوادا** کي ددموکرات ګوند مجلس ته په انتخاباتو کی دماتی وروسته د **(برنی سندرز)** لخوا چیری چي **(سندرز)** دوه چنده ډیر رای تر لاسه کړ ، نو په همدی وخت کي هغه یعنی **(بایدن)** بی له ځنډه د روسی کارت لوبی را دمخه کړ . اود سی بی اس (CBS) خبریال ته وویل چي روسانو نه غواړی چي زه دامریکی دجمهوری ریاست لپاره ونومول شم ، هغوی یعنی روسان غواړی چي (برنی) دامریکی دجمهوری ریاست لپاره ونومول شي ، **«هیلاری کلنتون»** دغه ناوړی لوبی هغه وخت پیل کړ چي **جیل ستا ین** (Jill Stein) **دګرین ګوند** دامریکی جمهوری ریاست ته نوماند باندی په دی نامه چي هغه دروسی جاسوس دی حمله وکړه ، اوپه کا ل (2020) کی همدا شان پر **تولسی ګا برد** (Tulsi Gabbard) باندی هم حمله وکړه . دموکراتانو یوه ریښتینی یا یو ساختګی د ښمن ته احتیاج لري، سیلیکون ویلي او اصلی تولیدکونکو هغو ته اجازه نه ورکوی چي **(چین)** په نښه کړی یا هد ف وګرځوي .
له دی څخه زیات ورته دناورین په مفهوم دي که مونږ غواړو چي خپل پرانیستي تولنه له سره تنظیم او چاپیریال ساتنه وکړو،مونږ با ید د نړیوال اقتصادي اوسیاسی ځواک په اړه دکارپوریت دریځ ختم کړو . که چیری مونږغواړو چی د زونوتیک (zoonotic) ناروغیو مخه ونیسو لکه د (COVID -19) سوین فلو(دمرغای ویروس څخه ناروغي) بقری یا ګاویی سفنجی شکل انسفلیتس (bovin spongiform encephalitis)، ایبولا ، اوسارس (SARS) نو باید چي مونږ دځارویو دمحصولاتو مصرف اودهغوی دجسمی ترشحاتو مخه ونیسو. مونږ باید فابریکی یا ساختګی فارم یا کښت ختم کړو اود سبزیجاتو رژیم ته مخه کړو اومونږ باید په ځمکه کي د فوسیل سونګ توکی وسا تو.
بی ویل دی پا تی نشی اوهغه داچی بارا نی ځنګلونه ، د حیوانا تو یا دځارویو لپاره څړ ځا یونه

اوپراخي کرهنيز ځمکي  چي په هغه کی د حيوانا تو لپا ره  د يو فصلی محصولات خواړه  ته وده ورکول اويا دهمدی مطلب لپا ره ځانګړی شوی وه د آمازون  دغه با رانی ځنګلونه د کال (1970) را هيسی  نژدی (91) سلنه له مينځه وړل شوی دی ، په ياد بايد وسا تو چي د ځنګلونو  له  مينځه  وړل يوله هغه اغيزمن  عا مل څخه شميرل کيږي چی  د آب وهوا  پر بد لون  با ندی ستر تا ثير غورځوي د څارويو کولتيبيت (cultivite)  کرکيلنه [ يا سا ختګی کارخانه ای فکتوری کرهڼه او کر کيلنه]  لکه څنګه چي په عام ډول پيژندل شوی  دانسانی مصرف يا خوراکه لپاره  دڅارويو روزنه ،  راټولونه او ذبح کول دي  يا چي دبحری حيواناتو  څخه ګټی اخيستنه  د سمند ر دمړ (غير ژوندي) زونونو اصلی لامل دي يعنی چی دسمندر  حيوانات له مينځه وړل يا دهغو زيا ت مصرف  کول پخپله  په سمندر کی مړ ساحی را مينځته کوي  اودا کيدی شی  چي تر کا ل (2048)  پوری  له سمندر  څخه  کبان ونيول شی  يا د کبا نو ښکا ر ترسره شی  اوله هغه وروسته سمند ر به د کبا نو دموجود يت څخه تش شی .
په  متحده ايالاتو کی  په هره يوه دقيقه کي **اوه ميلونه** پونډ(په پونډ سره وزن) حيوانی فضلات  دهغه څارويو څخه توليد کيږی کوم چی هغه څارويو د ا نسا نا نود خوراک لپا ره  ورته وده  ورکول کيږی ، دطبعي يا دنورمال ژوندځانګړی ځايونه يا محلات  د دوامدار تخريب  له امله  اوپه هغه ځايونو کي دکرهڼی پراخه مصنوعی  يا کا رخانه ايی  کرهنيز فارمونه  جوړول   اويا داچی  په امريکی کی  تر (80) سلنه پوری د انتی بيوتک  څخه استفاده کول  هغه اقداما ت دی  چی  دهغه   څخه ا نتا نا ت يا مکروبونه مقاوم ګرځی  يا داچي مرضی  مکروبوڼه را مينځته  کيږی   اوبيا دغه پتوجن يا مرضی مکروبونه دا نسا ن  جميعت ته سرايت کوی  چي په نتيجه کي په انسا نا نو  کي **دتورمړنی** ( Black Seath) موجب ګرځی  .
په دی باور سره  کوم چي مونږ کولي شو داوسنی اندازی مصرف او بيا په ځانګړي ښه  له حيوانی محصولاتو څخه د سرما يی پراختيا ،امپراتوری جنګونه په فوسيل  سونګ  توکو ډډه يا تکيه کول اود لويو شرکتونو قدرت اوځواک ته تسليميد ل اودهغه  بی له محدود کولودپراخيد نه  ساتل   ټول هغه څه دي چی د ا نسا ن په تاريخ کي  تر ټولو بد نا برابری عايد  لا هم  قوی کړي ، کوم  چي  دا پخپله  نا اميدی ، ځان وژنه يا ځان غولونه يا تيرايستنه دي.
مونږ د**(بايډن)** اداری  اود نړيوال  واکمن اشخا صو  د نوی او عا لی راټلونکی د  پراخ لمر ختنی لپاره  غرنی ساحه نه يوو ، مګر  اقتصادي  بد مرغي، د آب وهوا  د ناوړتيا  له امله  پراخه  بی ځای کيد ل  يا مهاجرتونه ، پا ند يميک ناروغي يو خفيف مخکی  جوړونکي دغير قا بل برګشت  چا پيريال سيستم سره  په ګډه د ا قتدارګرا نيو فا شيزم  ،د ټولني د ويجاړيدو  اود له مينځه وړو  هغه بوږنونکی شکلونه دي چی مونږ ورسره مخامخ  يوو .
## ***نړيواله تودوخه يواځی  ورو کيدلی شي:***
دځمکی د تودوخی کيدو څخه اجتناب  يا خلاصيد نه  ناممکن دي ، يعنی مونږ نشو کولی  چي دهغه مخه ونيسو  اما په  ډير مساعد حا لت کي  کولی شو  چي  دهغه  سرعت يو څه ورو  يا کمه کړو ، داسی انګيرل شوی يا داسی اټکل شوی  چي تر راتلونکي  (پنځوس )  کلونو پوری   په احتما لي ښی سره  دځمکی سطح تر هغه حده پوری  ګرم کيږي چي دځمکي  په اکثرو برخو کي  دانسان سکونت غير ممکن کيږي   يعنی چي شايد په لسونو يا سلونو   مليون خلک اواره شی او  دځمکي پر  مخ  په مليونونو  ګونی (SPECIES)  دانقراض سره مخه شی  او  هم نژدی ښارونه  لکه نيو يارک ، لندن  به تر اوبو لاندی غرق يا ډوب شی . سمندرونه  له اتموسفير څخه  کاربن دای اکسايد او تودوخی  زيا ته برخه  جذبوی  اودا جذب  په چټکی سره  تودخه کوی  اود سيمندر  اوبو تيزابی ګرځوی  چي په پايله کي  د بحرونو د. Deoxygenation (بی اوسيجنی کيدنه) موجب کيږي  لکه  هغسی  چي کارپوهانو او دانشمندانو وړانديز کړي ،هغه دادی چي مخکی هريود ځمکی د پنځه   پيژندل شوی جرم (Mass) څخه  کوم چي کارپوهانوهغه ته دځمکی (دری ګونی) وژونکي نوم ورکړی هغه د ځمکی  تودوخي ،

دبحرونو داوبو تیزابی کیدل او په اقیانوسونو کی داکسیجن نشتوالی دی.
بل پراخه انقراض دسمندری حیواناتو له مینځه تلل جریان دي کوم چي همدا اوس جریان لری او دویلو وړ دی چي دحیواناتو انقراض دلمړی ځل لپاره (۵۵) میلیون کاله دمخه را مینځته شوی وه .
دا ما تی منونکی نه ده بلکه واقعګرایی یا حقیقت مننه دي ،دا داسي په نظر راځی چي مونږ د «بایدن» په انتخاب سره دځلورکالو پوری خرڅ شوی یا پلورل شوی یو یا داچي د «بایدن» لخوا پیرودل شوی یوو ، کوم چي که دهغه څخه په هوښیاری سره ګته پورته نکړو د «بایدن» په کابینه کي دهغه دنوی وزیرانو مقرري مونږ ته داسي دکوم امیدواری زیری نه لیدل کیږي چي زمونږ د تشویق کیدو زمینه را مینځته کړي . مونږ یواځی دپوتمکین**[په سیا ست او اقتصا د کی د پوتمکین کلی هر هغه جوړښت «تحت الفظی یا مجازی ویل کیږی» چي دهغه اصلی هدف هیواد ته دخارجی منظر وړاندی کول یا ارایه کول دی چي د ښه رونق څخه ځینښتن نه دي او د خلکو دا سی باور شی ...تفصیل ددی قلم پواسطه سره]** او ویجاړ شوی کلی دبیا رغونی په حال کي یاستو چي هیواد ډیر مخکی تلل لری، ډیر زرد نسکوریدو پواسطه سره به اواره شي او هغه هم دسیاسی اود چاپیریال دتوفا نو د فشا ر راوړو له کبله ، کوم چي زمونږ په شا وخوا کي جریان لري .
یو له هغه درسونو څخه چي ما د یو بهرنی خبر یا ل په توګه دجنګونو او انقلابونو له پوشش څخه زده کړي هغه داچي سیا سی ، ا قتصادی او کلتوری سیستمونه چي د کومی تولني لخوا رامینځته شوی خورا نازک دی لکه څنګه چي ما د ختیځ اروپا (1989) انقلابونو اوبیا وروسته په یوګوسلاویا کی بدلون ولیدل داوږدی مودی داخرنی ویجاړنی څخه پای اود قدرت ځواک لا تر اوسه ځای پر ځای پاتي دي .
دغه ډول منظرتولنه را غلوی یا تیر با سی اوداسی فکر کوی چي د اقتدار جوړښتنه پخپل ځای کي کلک پا تي دي .اود اړی دوری یا ورتید و تر نفوذ او اغیزی لاندی نه پریوځي نوکه چی سقوط را مینځته کیږي چي با ید هغه ډیر مخکی وړاند وینه شوی وایی د درک وړ نه وو نو وروستی اخ وډب غلونکی اوبوږنونکی دي . دځواک او چټک انحلال ترمینځ د پیژند نی نه همغا ړیتوب پخپله دخیا ل اودتوهم تغذ یه کول دي .
داحا لت رامینځته کوي لکه څنګه چي زه په پخواني **یوګوسلاویا** کي شاهد یم ، کوم هغه څه چي انسان پیژندونکی(ANTHROPOLOGIST) هغه ته دفرقو یا دګروپونو د بحران نوم ورکړي ، کوم چي دعجیب اودغریب توطیی چي د شدید تاوتریخوالي په غیږ کی سره وده کړی، تولنه له هغه شیطا ني لندپارو یا ګنهګا رانو څخه کوم چي دملی ما تی موجب شوی دی پاکي کړي .

## کرکه دوطنپا لنی لوړه نمونه ده :

زیان منونکي قربانیان ، روشنفکران ،ژورنالستان ، کارپوهان او دانشمندانو چي په نړی کي دواقیعت د ریښی سره اړینی دي یا دواقیعت پر ریښو باندی باور لري هغو له پامه غورځول کیږي یا هغو ته په سپک نظر کتل کیږي ،واکمن اشراف او واکمن جوړښت جوړونکی خپل تول اعتبا ر دلاسه ورکوي ، دا ډول سقوط یا نسکورتیا اکثراً د نړیی د ناهیلیزم (دنیایی پوچګرایی) ، خیا لی په وینه کی ډوب کیدو خواته بیوه کړکی دي .
دځلورو کلونودروغ ویلو څخه وروسته دتوکم پالنی تاوتریخوالي ، بی کفایتي ، پراخه اداری فساد اودملی روغتیایی بحران سره دمبارزی ناکامه ، ناکامی «ترامپ» خپل پایګاه یا «اډه» د (۱۱) رایو سره پراختیا ورکړ دا با ید د یولوی سورخراغ سترګک وهونکی وي .بد تر له دی هم کوم چي د «ترامپ» ، (۷۰) سلنه رای ورکوونکي ،(۵۱) امریکایان په دی باورمند کړ چي چپ رادیکا ل دموکراتان اودمتحده ایالاتو مخفی (deep states) دولت درای ورکوونکو په رای ورکونه کي تقلب ترسره کیږي چي دهغه له جملی څخه دونزویلاتبارو خلکو الکترونیکی نامشروع رای ور دننه کول یا ورداخلول هغه څه دي چي دا نتخا با تی مقا ما تو له طرفه د «ترامپ» په ارا کي لاس وهنه

کیږي یا چې دهغه درای ورکوونکي رای تخربیب کړي دي .

دمجلس یوسلوشپږ ویشت(126)جمهوریخواه استازی دهغه (۱۸) سیمه ایزجمهوریخواه څارنوالانو سره په ګډه د متحده ایالاتو دلوړي یا عا لی محکمی څخه غوښتنه وکړ چې په انتخاباتو کې د (جو بایدن) بریا فسخ یا لغوه کړي اوله بلی خواڅخه نژدی اکثریت ته جمهوریخواه سناتورانو هم دنومبر د میاشتی وروسته له رای ګیری څخه دانتخا با تود پا یلي له تایید څخه ځان ساتنه وکړیا چې دانتخاباتو نتایج تایید نکړل

.

دا نتخا با تی کا لج انتخاب کونکی په څو ایا لتونو کې اړ ایستل شوي ترڅو خپلی راي د وسله والو محافظینو تر مشری لاندي قانونی ایالتی محافلو ته ورتحویل کړي ، کم اویا زیات (۱۲) په سلاح سمبال اعتراض کونکی چې دامریکي بیرغ یی ورسره وه ، شعار ورکول چی د (رای) غلاکول ودروی ، دوی د خپل همدغه شعا ر په ورکولو سره د میشیګا ن د با ندنی چارو د وزارت دوزیر (Jocelyn Benson) کور پوري خپل مارش ته دوام ورکړل .

له بلی خوا څخه دسپین پوستو (۷۰۰) مغرور ملی ګرا ځوا نا نو د اوني په اخرکي دواشنګټن سرکونو ته راووتل اوخپل اعتراض یی درایو دغلاکولو په اړه اوچته کړ، چی دهغه په نتیجه کي دری درجنه (dozen) زندانی، څلور تنو په چاقو سره زخمی ، دتور پوستو څلور کلیسا ویجا ړ او دسیاهانو (تور پوستانو ) دژوند ومعاملي یا د راکړي ورکړي بیزونه یا بازارونه وران ، تخریب او وسوځول شو.

«ترامپ» ممکن دی چې ډیر زر لاړ شي ، اما هغه داسی یو ګوند خپل شا ته پریږدی چې په ښکاره ډول دیو اوتوریتی خاوند دی ، کوم چې ددموکراتیک نورمونو څخه انکا روکي . د سا ینس اود حقایقو پر بنسټ باندی ولا ړ واقعیتونه او هم خبرو ا ترو ته د ښمني په سترګو ګوري یعنی چی ددی حقا یقو په وړاندي دکودتا کولو خیال لری چی بل ځل ددی شاید دومره بی نظم اونالایق ونه اوسی .

د دموکراسی سره دغه د ښمنی حتی د دوو حا کمو ګوندونو لخوا ترسره کیږي د ملیونو امریکایانو له خوا ملا تړ کیږي چې ډیری یی د (بایدن) اود دموکرات ګوند دمشرانو له خوا خیانت شوی دي نه تحلیل کیږی بلکه لا پسی وده کوي اوبیا په ځا نګړی توګه د ا قتصا دی څټک په وهلو سره د ملیونو امریکا یا نو بی ځا یه کیدل یا را وتل دغه هیواد ولړزول.

د لسګونو شرکتونو تهاجم پر فرهنګایانو ، ورځپاڼی لیکونکو ، ښونکو، هنر مندانو ، د پوهنتونونو پر استادانو، پوهانو باندي دهغوی دنیوکی کولو له امله چی تر سره شوی یا تر سره کیږی کوم چي هغوی حقیقت وایی ، ځانګی ته ګوښه کیږی یا هغوی نا لیدلی لیدل کیږی دغه حقیقت ویونکو یا هغوی چی دبدمرغیو وړاند وینه کوي له ملی بحثونو اومرکو یا مشورو څخه لیری سا تل کیږي .

او هغه هم داخرالزمانی په عنوان بی له کوم قید اوبند په خواشینی او افسرد ګی سره ګوښه کید و ته ورتیل وهي . دهیواد دهیلو دمینو کوم چي زمونږ دشرکت دلوړ کا رشنا سا نو له خوا په زړه پوری چمتو کوی اوهغه هم دحق په قیمت داهمغه بد بخته هیله ده چي مونږ به یی له لاسه ورکړو .

داتریش لیکوال ستیفن سونګ (Stefan Zwang) چي دیوشمیر نورو لیکوالو اوهنر مندانو سره په خورا لیوالتیا سره هڅه کوي ، دلمړی نړیوال جګړی د ځا ن وژونکی حما قت خبرداری ورکړي ،هغه دهغه څه په اړه لیکي : چي هغه شي هغه د (ماتی شوی ذهنی برتری) بولی دهغه دجنګ ضد لوبی **جرمیا** (دشپږم پیړی لوی پیغمبر) دانجیل پر بنیاد چي بی ځایه خبرداری یی خپورکړی څرګند کړي چي هغه څوک چي دواقیعت سره یی مخه کیږی که څه هم خورا سخت دي، ددی وړتیا لری چي له دی څخه نور هم پورته شي . پیغمبر سونګ (د دوګانګی ZWEIG) ځانګي په نمایشنامه کي کي غږ پورته کوي او وایي **[ ویښ شي ، محکوم شوی ښاریانو ځان وژغوري ،**

**مبادا چي په دي ژور خوب کی په قتل ونه رسيږي ، را ويښ شي چي د يوالونه نړيږي او تا به دړی وړی کړي را ويويښ شه ]** اما د **جرميا** (jEREMIAH) خبرداری د ژړونکی پيغمبر په نوميد و سره نا ليد لی وګڼل شواو دهغه سپکاوی وشوی هغه د خلکو دبدخلقي اود ناوړی چلندله امله تر حملي لاندي پريوتل دهغي د ژوند په مقابل کي يو لړ د سيسی تر سره شو کوم وخت چي د (بابل پوځ ) اوريشيلم تر خپل ولکي لاندي راوړل ، هغه لکه **جولی اسانګ** (Julian Assang) په زندان کي بندي وه .

هغه يعنی **زوايک** پيغمبر وليکل : زه څنګه تل ددی مسلی خواته جذ ب کيدم يا چي زما پام ورته اوړيدل ، چي ويښ شم چي څنګه هر ډول قدرت اويا ځواک کولی شي دانسان زړه دومره سخته او بيرحمه کړي يا څرنګه برپا ليتوب کولی شي وچ ذهنه ملتونو ته سوغا ت راولي اوبرعکس عاطفی محرکا ت يا ځواکونه د ما تی سره مخامخ کيږي ، چي په ډير درد ناک بنی سره په روح اوروان با ندی بوړنونکی کرکيلنه کوي هغه پخپل خا طراتو کی وليکل : پرونی نړی د جګړی په نيميا يی کي ، حا ل داچي نورو ډير زر د خپل برياليتوب جشن نيسی ، يو او بل ته ثا بتول چي برياليتوب اجتناب نا پذير دي ، ما د ناورين په د ننه کي لاری لټول او دلاری د را مينځته کيدو په لټه کي اوم .

که دحقيقت سره د مخا مخ کيد و څخه انکار وکړو نشو کولای چي دهيلی له کليمی څخه ګټه تر لاسه کړو ، ټول اميدونه په خيالبافي کي ريښی لري ، مونږ بايد له خپلو سترګو څخه ليری کړو ، تر څو هغه خطره چي زمونږ پر وړاندي دي هغه ووينو ، مونږ بايد دخپلو پيغمبرانو خبرداری ته پام واړو .

مونږ بايد د ځواک اود قدرت مرکزونه دړی وړی کړو تر څو چي زمونږ زامن **دپيډ پيپر اف هاملين**[ (pied piper of Hamelin) = د المان د بند رزاکسن دولايت يو لرغونی افسانه دی.... ددی قلم پواسطه سره ] په پلان کی هلاک نشی ديوالونه هره ورځ ځما په شاوخوا کي ټړل کيږی يا پورته کيږي يعنی د (ترامپ) تر مشری لاندي راديکال شر پيشګا نو سره هره ورځ مخامخ يو کوم چي ممکن د «بايډن» په زمامداری کي به هم دهغو سره به مخامخ پاتي کيږو که دغه راديکا ل اشرار دړی وړی نشی نو نړی به دعذاب اود ټولنيز مرګ او تباهی سره به مخامخ شي .

## يو څو کرښه د دی مقالی دليکونکی په اړه
:

**کرس هيجس** چي د پوليتزر دجايزی ګټونکي دي ، او پنځلس کالهدنيوپارک ټايمز دورځپاڼي دخارجي خبرنګار په حيث دنده ترسره کړی اوپه هغه ځای کي دمينځنی ختيځ اود بالکان په دفتر کي چي د ريس په عنوان دمقالاتو په ليکلو مصروف وه کوم چي هغه مخکي له دي د **کرستين** (christian) **دالاس مارننګ نيوز** (Dalles Morning News) **سا ينس مانيتور** او (NPR) ورځپاڼو ته دهيواد څخه دبا ندي د مقا لی ليکلو فعا ليت هم تر سره کړي هغه د (on contact) مجری اود (Rt American) دجايزيدترلاسه کولو لپاره هم نومول شوی وو



==========" **په سلامونو**(29-01-2021)